# Impact of 9/11 on Pashto Landai

# پرپښتو لنډۍ د یوولسم سپټمبر اغیز

Abdul Ahad Mangal*

Abstract:

The Pashtuns, as a larger and important part of the Afghan society has such a rich folkloric source that undoubtedly none of the region languages can compete it. The Pashto landays (couplets- a kind of folk songs) are a very valuable and interesting moral wealth and reflect our artistic- literary talent. It is such a mirror, which shows the century's long feelings, hops, sentiments, desires, happiness, tragedies, griefs, loves, abhorrence's and in brief social goodness, badness and behavior. It is transferred from one generation to another.

The September eleven incident was such a ring of the exploitive conspiracies series that severely damaged our moral and material properties during the last 16 years it is caused such a grief and sorrow that crushed each part of our people life and affected badly.

In this writing we study some those effects of Pashto landays samples which are reflected in folkloric versified literature.

**Keywords**: 9/11, Afghan Society, Landai(couplets),social behavior, Pashto literature.

لومړۍ غواړم په لنډه توګه د لنډۍ یا ټپې تعریف وړاندې کړم: لنډۍ یا ټپه د پښتو ژبې او پښتون ولس د ولسي اصنافو له ډلې څخه هغه لنډ یوبیتي او دوه مصریز صنف دے، چې لومړۍ مصره ئې (۹) او دویمه ئې (۱۳) څپې ده، یاد صنف که څه هم لنډ خو لوړ مفاهم لېږدوي، په همدغه وړوکوالي د موضوع حق ادا کوي، د نورو شعرونو په پرتله ئې اغېزه ډېره زیاته ده او د ادا له مخې موزونه دایروي بڼه لري، خو هره مصره ئې ځانته وئیل کېږي، یا په بله معنا: لنډۍ هغه دوه مصریز نظم دے، چې دواړه مصرې ئې په وزن او قافیه کښې

* Assistant Professor Academy of Sciences Kabul, Afghanistan

سره نه دي برابرې.(۱)

داچې د اصل بحث نه لرې نه شم، د لنډيو پر همدومره لنډه پېژندګلو بسنه کوم، غواړم هغه اړخ ئې زيات تر بحث لاندې ونيسم، چې څنګه؟، څه ډول؟ او کوم رسالت؟ سرته رسوي، د څنګه؟ لپاره په لنډ دول وايم، چې پښتو لنډۍ په خپل واړه عام ولسي قالب کښې کره، پوره پيغام رسوي. د څه ډول؟ لپاره وئيلاے شو، چې د لنډۍ همدغه ولسي لنډ شهکار ژانر ديني، اخلاقي، عشقي، حماسي، ارماني (نوستالژيکي، Nostalgia)، طنزي او نور مطالب پښتني ولس ته وړاندې کوي. د کوم؟ په اړه دومره وايم، چې هغه رسالت چې لوستو ټولنو د علمي اثارو، تأليفاتو، تاريخونو، کتيبو، اخبارونو او نورو خپرونو له لارې خپل ولس ته رسولي، پښتو ټپې په يواځې ځان، په ډېره وړه تنه د پښتني ټولنې لپاره تاريخي، علمي او فرهنګي رسالت تر سره کړے او کوي ئې، که د تاريخي تېرو حالاتو نه تېر شو، د يولسم سپټمبر (۲۰۰۱م) پېښه د بېلګې په توګه و څېړو وينو چې دغې مرموزې پديدې د پښتني ټولنې په زړه کښې د درد او غم نه ډک د تاريخ باب پرانيستے، که لږ بحث اوږد کړو وايو، چې د بشري تاريخ هر دور د يوې سترې پېښې په نتيجه کښې را منځ ته شوے چې مؤرخيونو همدغې پېښې ته د زاړه دور په وړاندې د نوي دور نوم ورکړے، کله چې نوے دور رامنځ ته کېږي د ټولنيز ژوند ډېرې کړنې ورسره رنګ بدلوي، صنعت، تجارت، زراعت، ساينس، ادب، ټولنيزې پوهنې، سايکالوژي، سياسي کولکټيفونه يا ډلې - ټپلې او نظرئې... همداشان د دغو علومو او تکتيکونو په هکله نوې تيورۍ رامنځ ته کېږي، بالاخره د ټولنيز ژوند پديدې په نويو چوکاټونو کښې مطالعه کېږي، د انسانانو د غوښتنو سره سم د ټولنيز ادلون بدلون په نتيجه کښې نوې ځانګې رامنځ ته کېږي، هر ډول بدلون د ځانه سره نوې اصطلاحات، لغات، محاورې، ډيالوګونه او نومونه زېږوي، دغه او داسې نور تغيرات د تېر دور په وړاندې د نوي دور او يا پړاو وجود ثابتوي.

نوے دور د يوې سترې پېښې پايله ده، دغه پېښه به يا طبيعي وي او يا به په طبيعي ډول د بشر له خوا رامنځ ته شوي وي، چې بيا همدغه طبيعي پېښې خپل او ټولنيزې پېښې خپل ډولونه او ځانګړنې لري، مونږ بشري تاريخ (Human Story) په مختلفو تدورو کښې مطالعه کوو، لکه: د ډبرې دور، د غلامۍ دور، د ليک دور، د صنعت دور، ... همداشان ادبي تاريخ يا د ادبياتو تاريخ خپلې تقريبي او ټاکلي دورې، پړاوونه؛ روښانه ځانګړنې او

د بدلون کرښې لري... دا موضوع ځانته یو بل بحث غواړي، خو زه اصل مطلب ته راګرځم چې، د مقالې په عنوان کښې ئې ذکر شوے دے، ۱۱م سپټمبر یادوم! دغې پېښې د بشریت په تاریخ کښې د خپل دور یو څرګند پړاو را منځ ته کړ، چې ډېر مادي او معنوي بدلونونه ئې په هره برخه کښې و زېږول، د بشري ټولنې د ګلوبلایزیشن او (یوکلي) کېدو په دې دور کښې چې سوشیل مېډیا او نورې ټولنیزې رسنۍ ئې د اړیکو غوره وسیله وګرځېده، په چټکۍ سره د نړۍ لر او بر ملتونه په ژوره توګه اغیزمن کړل، محب وزیر په خپل اثر کښې لیکي: (هسې خو یولسم ستمبر یوه عامه ورځ ده چې په کال کښې یوه پېره راتلله او بیا به هم راځي- خو د دوه زره یو (۲۰۰۱) یولسم ستمبر په خپل ځان کښې هغه څه را وړل چې اوس دا ورځ یوه ورځ نه شوه پاتې، بلکې یوه اصطلاح وګرځېده، د مرګ، ژوبلې، ویر، د نویو اتحادونو، نویو بریدونو او د خپلو پخوانیو خواهشونو او ارمانونو د پوره کولو یوه تاریخي حواله جوړه شوه - د ځنو دپاره دا ورځ د قیامت نه کمه نه وه او د ځنو دپاره دا ورځ لکه د لنګې غوا وګرځېده – دغې ورځې زاړه ملګري سره دښمنان کړل او زاړه دښمنان ئې سره ملګري کړل.)(۲)

یولسم سپټمبر پېښې د نړۍ او په ځانګړې توګه د اسیا په زړه کښې مخامخ په افغاني ټولنه کښې څرګندې عیني پدیدې را منځ ته کړې، چې پردغه ټولنه ئې ژورې اغېزې معلومېږي، غواړم دغه اغېزې په پښتو لنډیو کښې وړاندې کړم، چې عام کلیوال او نالوستے ولس ئې څومره ژور متاثر کړے دے او د خپل درد، غم، احساس، ویر، زړسواندۍ او بېوسۍ څخه ئې په کومو الفاظو پرده پورته کړې ده، لکه چې وایي:

محصل شهید شو فارغ نه شو

مور ئې په چغو چیغو ټول کړل کتابونه (۳)

پورتنۍ لنډۍ زمونږ د ټولنې د عیني پدیدې واقعیت بیانوي، ډېر دردونکے، بړنووکے، د یوه ژور احساس، درد او ویر نه ډک حقیقت، د نهمې یولسم نه مخکښې به په استثنایي ډول داسې پېښې شوې وي، چې یو محصل د شومو اهدافو موخه وګرځي په بل روایت وئیلے شو چې پخوا به یو یا څو زده کوونکي د شومو استخباراتي کړنو هدف ګرځېدلي وي، خو د سپټمبر پېښې نه وروسته په ډلییزه توګه محصلین د عقده یي سیاست او د نورو موخو د لاسته راوړو ښکار ګرځي.

د پورته لنډۍ نوې والے د هغې د الفاظو نه څرګندېږي د ولسي ادب په دې ښکلي ژانر لنډۍ کښې د طالب ذکر ډېر شوے د ښېلګې په توګه، لکه دغه لاندې لنډۍ:

طالبه خداي که به مولاشې
په کتاب پروت ئې يادوې شينکي خالونه

خو په لومړۍ لنډۍ کښې د طالب په ځاے محصيل تمثيل شوے.

همداشان وئيلے شو چې د عملي ژوند يو بل حقيقت چې په لاندې لنډۍ کښې ئې له مخه پرده پورته شوې د يادې پېښې زېږنده دے.

پاس ډبډۍ چورلکې راغلې
څوک به ياتيم کړې، څوک به کونډې بورې کړينه (۴)

پورتنۍ لنډۍ د يوې سترې غمزې زېږنده ده، د داسې غمزې چې افغاني ټولنه په ځانګړې توګه پښتني ټولنه ئې هره شېبه تجربه کوي، په لنډۍ کښې ډبډۍ چورلکه هغه بدمرغه نوم دے، لکه په آريايي افسانو کښې د تور دېو نوم، د افغانستان په کليو او بانډو کښې لويان څه چې ډېر واړه ماشومان هم ډبډبۍ چولکې پېژني، کله ئې چې آواز واوري نه تمثيلونکې وېره ئې په څېره خپره شي، د مرګ، ژوبلې، ړنګاوې، اور، وهلو، د تورو کڅوړو د غوندلو او ورکولو نوم او آواز دے، زمونږ په ټولنه کښې په عام ډول چورلکې ته چورلکه يا هليکبوتر(هلیکوتر) وئيل کېږي، خو د وحشت چورلکه عامو مظلومو کليوالو د وېرې په وجه په ډبډبۍ چورلکه پېژندلې ده، د پورته لنډۍ نه ئې د شکايت اندازه څرګندېږي. داسې زياتې ښېلګې شته چې د ۹مې ۱۱م اغيزې د ورايه پکې ښکارېږي لکه:

جلکۍ د ډورن تياره ده
د کور له خوائې تېرېدم وئې ويشتمه
بانه دې نه دي سم سناپېر دي
د زړه په سر ئې وويشتم زخمي ئې کړمه
نښان ويشتونکے ئې جانانه
رسا د زړه په سر کوې سيخ ګزارونه
ته په ړندو تيارو بمبار کړې
مړ به مې يار کړې، خون به ستا په غاړه شينه(۵)

## سپنې مانۍ ټوټې ټوټې شې
## په تاکښې کېږ ي ويجاړيو ترونونه (۲)

د دغه بدلون بله ستره معنوي برخه، داوه چې په نړۍ کښې نوې ټکنالوژي، موبايل، ټليفوني يا د اړيکو غږيزې شبکې، سټلايټ او انټرنېټي چټکې غږېږې او انځوريزې شبکې رامنځ ته شوې، چې په نتيجه کښې افغاني ټولنه هم د ټليفوني شبکو او سوشيل ميډيا يا ټولنيزو رسنيو څخه په ۱۳۸۰ - ۲۰۰۱ کال د ۱۱۱۹م پښې سره سم، په ډېره کمه موده کښې په عامه توګه د نړۍ په کچه او په ځانګړې توګه زمونږ په هېواد او افغاني ټولنه کښې چټکه پرمختيا او پراختيا وموندله، لوستي او نالوستي، نر او ښځې ټول ترې برخمن شول، د ليک، قلم، قاصد او پوستې څخه ئې ميدان وګاټه، د ارماني سمبولونو لکه سپوږمۍ، تروږمۍ، ستوري، وربځ، شمال، هوسۍ، مازديګر، سهار، کبوترې، مينو (ښارو)، توتي او نورو په واسطه خبرې لېږل او يا د زړه خواله ورسره کول افسانه وګرځېدل، د سترګې رپېدل يا ترېدل، د ورغوي او پښې توخښېدل، په غوږ کښې کنګاره، د کارغه زېږے او نور د تېرو کيسو يوه برخه و ګرځېده، ځکه چې د نوې ټکنالوژۍ په واسطه ټول ارمانونه مخامخ په ريښتوني توګه پوره او ياد سمبولونه د مجاز له قيده خلاص او خپل حقيقي ارشيف ته و ښښل شول، هغه د پټوسترګو د خوبونو د تعبير څېره مخامخ په رڼا هنداره کښې ښکارېږي، اوس که په ارماني او افسانوي سمبولونو باندې اتکا کول ساده توب نه دے! ويښيارتوب هم نه دے! د ببلګې په توګه: زه د خپلو زده کړو لپاره يوه مقدار پيسوته اړتيا لرم، غواړم د خپل ورور نه چې په بهر کوم هېواد کښې ژوند کوي غوښتنه کوم، که زه خپله غوښتنه د يوه ليک په واسطه د پوستې يا ډاک خانې له لارې چې ورځې او مياشتې وخت نيسي ولېږم معقوله به وي او که د موبايل او يا د انټرنېټ له لارې، چې په يوه شبېه کښې د همدغه انټرنېټ په واسطه د ويسټريونين او نورو سيسټمونو په مټ په څو دقيقو کښې تر لاسه کړم، نو وئيلے شو چې په دې عصر کښې معشوقه د مسافر لالي ديدن د سپوږمۍ په څېره کښې نه کوي چې ورته ووايي:

زما د لرې وطن ياره

سپوږمۍ ته ګوره زه په بام ولاړه يمه

او يا د وربځې په دود د يار په غېږ کښې ړنګېدل، چې خپل اخلاص ورته بيانوي آواز پرې

کوي:

په جګو غرو رانه پنا ئې
وربځ خو نه یم چې نرۍ در ږنګه شمه

یا هغه سلامونه چې معشوقې به د باد په وسیله خپل معشوق ته لېږل لکه:

باده په باد مې سلام وایه
په هغه باد چې د اشنا په لوري ځینه

((مشت نمونه ئې خروار)) خبره نه اوږدوم د دغه تبصرې څخه مې موخه داده چې اوس د یوې تنهٔ په کېکرلو سره ډېر ارماني او غیر ارماني راز او نیاز پوره کېږي، همدغه واقعیتونه او عینیتونه پر عام ولس مستقیم او غیر مستقیم اثر غورځوي، چې اثرات ئې په شفاهي ادب کښې را څرګندېږي. کاندید اکاډمیسین محمد صدیق روهي په همدې هکله د روسي عالم (نیشفسکي) نظریه را اخلي وایي: ((د عوامو بدیعي ایجادیات باید د هغو په مشخصه تاریخي قرینه کښې تر څېړنې لاندې ونیول شي، بالعکس که شفاهي ادبیات له تاریخي زمینې نه د باندې مطالعه شي خپل مفهوم او ارزښت له لاسه ورکوي))(۷) په همدې پسې زیاتوي چې((د خلکو هنري ایجادیات له عملي ژوند سره په ارتباط کښې مینځ ته راغلي دي))(۸)، د بېلګې په توګه لاندې لنډۍ وینو چې د دغه روسي عالم د فرضئې ښه ثبوت دے لکه:

میسکال دې راغے ته رانغلې
په کار مې نه دي بې دیدنه میسکالونه(۹)

په پورته لنډۍ کښې ۱۱م سپټمبر اثر ځکه څرګند دے، چې میسکال په عملي ژوند کښې یوه تکرارېدونکې پېښه ده. Miss په انګلیسي ژبه کښې ډېرې معناوې لري، چې په مبایل کښې د (تېروتنې) په معنا راغلے دے او په اخر کښې د ed توري د (تېروے یا تېروتي) حالت لپاره ورسره یوځاے کېږي په پښتو، پارسي او اردو ژبو کښې (Missed Call) لفظ مفغن او مفرس شوے چې د (ED) توري ئې د دروند والي په وجه د استعمال نه لوېدلي دي. که خپل بحث ته را وګرځو وینو چې د پوتنۍ لنډۍ اصلي مصره په لاندې ډول ده:

سلام دې راغے ته رانغلې
په کار مې نه دي بې دیدنه سلامونه

د نوئي ټېکنالوژۍ د رامنځ ته کېدو په وسیله ئي نوے وریانتې وزېږېد، څکه اوس سلام په تلیفون (Phone)، مسیج (Message)، واټساپ، وایبر، ... برېښنالیک (Email)، (Gmail)، او دیدن په سکایف(Skype)، مسینجر(Messenger)، وایبر(Viber)، آیمو(imo)، انسټګرام(Instagrem)، ... کښې همداشن خپل نظریات، احساسات، ابتکارات، ګیلې او خوښۍ د (Google)، (You Tube)، (Facebook)، (Twitter) او نورو لسګونو وسیلو او شبکو په واسطه اظهاروي.

د ببلګې په توګه دغه لاندې لنډۍ اوګورئ:

د ریبارۍ چل ئې اسان کړ
یاران په سکایپ کښې د جانان کړي دید نونه
چې ستا په فون کښې فریاد اورم
خدا ے دې د سر له درده جوړه کړه مینه
د تلیفون زنګ ئې خاموش دے
مورئې میره ده څه سزا به ورکوینه
پرون وعده وه ته رانغلې
د تلیفون زنګ ته دې تړې ناسته ومه(۱۰)

یوه بحث په نوي تکنالوژۍ کښې د سمبولونو او انځورونو دے، دغه سمبولونه یو ډول اشاروي ژبه ده، دغه انځوریزه ژبه د علومو هرې څانګې ته خپل خپل ټاکلي انځورونه لري. که څه هم سمبولونه د لیک له ایجاد نه تر مخه زمانو کښې د هغه وخت د بشري ټولنې تر منځ قرارداد شوي وو، خو سره له دې ئې د نوې تکنالوژي نوښت ګڼو، څکه چې د تکنالوژي ماهرینو مجازي نړۍ کښې دې برخې ته خپل ځا ے او ځایګے په نخښنه کړے، ښېګړه ئې دا ده چې په کم وخت کښې او د یوه سمبول په لېږلو سره خپل مطلب رسول کېږي، په دې سمبولونو او انځورونو کښې له (هو!) او (نه) نه نیولې تر اوږده متن پورې مفاهیم ځا ے شوي دي، په دې لړ کښې د ملګرتیا، ګیلو او مانو، نازونو او اداګانو، رازونو او نیازونو لپاره هم سمبولونه ټاکل شوي چې یو سمبول یا انځور د سلو کلمو خبرې لري، په نوي تکنالوژۍ کښې د هنري انداز لپاره د وصل او فصل یو شمېر مخاطب سمبولنه ځا ے په ځا ے شوي دي، چې د اشاري ژبې په ځا ے کارول کېږي، د یادې اشاروي ژبې تکنالوژیکې

نښې چې په پښتو لنډيو کښې راغلي دي د بېلګې په توګه لاندې وراندې کېږي:

رېکوېسټ دې شته تصوير دې نشته
اړ به دې نه کړم بې تصويره رېکوېسټونه(۱۱)

سړے په لايک نه سړے کېږي
سړے هغه دے، چې کومېنټ پرې وليکينه(۱۲)

که ته رښتيا په ما مين ئې
په ماسينجر کښې را لېږه خپل تصويرونه(۱۳)

ايمېل دې راغے ته رانغلې
په کار مې نه دي بې ديدنه ايمېلونه(۱۴)

پورته لنډۍ د اصلي او ځنډنو لنډيو نوي وريانټونه دي، لکه پورته چې په پرتليزه توګه يوڅو نمونې وړاندې شوې، خو دغه نوي لنډۍ د فنونو په نوې نړۍ کښې د نويو ځانګړنو سره وړاندې شوي دي که څه هم، لکه مخکښې مو چې ووئيل؛ دغې نړۍ ته د مجازي نړۍ نوم هم ورکړے شوے، خو ټولې پېښې پکښې منطقي او عيني تسلسل لري، د انسان د عقل او رښتونوالۍ محصوله نړۍ ده، چې د ضريب حاصل ئې مثبت را وتلے.

دا او داسې نورې زياتې بېلګې په ولس کښې شتون لري چې په راتلونکې کښې به هڅه وکړم تر خپلې وسې پورې به ئې بېلا بېل وريانټونه او بېلګې را ټولې او خوندي کړم.

د ۱۱م سپټېمبر پېښې او وروستيو بدلونونو زمونږ په ټولنه کښې هر اړخيز بدلون رامنځ ته کړ، نوي وسايل، زمونږ ژوند ته را د ننه شول، نوې نظريات، نوې علوم چې په ولسي او بديعي ادبياتو کښې ئې هم لږ ډېر انعکاس موندلے دے، په دې هکله لاندې طنزي لنډۍ چې هم طنز پکښې دے او هم مزاح او هم نوې سمبولونه؛ وړاندې شي، لکه:

زما طالب طالب جانانه
رېنجر رېنجر درته کېدم و دې ويشتمه(۱۵)

يا لکه:

زما ټېلر ټېلر جانانه
الټو الټو درته کېدم چيته دې کړمه(۱۶)

په پورته لومړۍ لنډۍ کښې (رېنجر) د (فورډ) په نامه هغه ډاټسن موټر دي، چې

نظامیان ئې د جګړې په وخت کښې د چټک لېږد لپاره ترې ګټه اخلي (رېنجر) د ځانګړي یا خطرناک مانا هم لري. ټېلر لس سلنډره موټر چې اوږده باډۍ لري او الټو د سوزوکۍ کمپنۍ تر ټولو وړوکي موټر ته وئیل کېږي په هندوستان کښې راکشې ته الټو وایي او هغه ګاډۍ چې په بایسکل پسې تړلې وي او د یوه کس له خوا په پایډل وهلو چلول کېږي او دوه کسه سپاره پکښې لېږدوي، هغې ته راکشه وایي، زما په خیال وړوکي کشوونکې یا راکشوونکې وسیلې ته راکشه وئیل کېږي، چې د راشکې نوم به د کش کوولو نه اخیستل شوے وي.

خبرې ډېرې سر ئې یو دے، غوارم دغه موضوع په لاندې سروکي را ونغاړم:

د خت لمنه ئې د کاټو لوټو ډکه ده
ځنګ ته شئ بمبار کړي
جلکۍ نه ده چورلکه ده(۱۷)

## References

1- Rafi,Habibullah, da khalko sandare, da Tarikh aw adab tolana, tawlati matbuia,kabul, 1349, p 100.
2- pa pashto Nawal aw afsana, da yaulsm sptmbr asarat, Muhib wazir, pakhtunkhwa study Centre, Bacha khan University Charsadda, Aamar Print and Publishers,Pekawar, 2015, p 29.
3- da Zwan shahid Zwak Barkzi Facebook pana.
4- da bibyane ni ni la khole.
5- da Mangal Zwanano messenger grop.
6- da sultani ma ma la khole
7- Rohi Muhammad Sadiq, (Sarmuhaqaq), Fulklor pezandana, da Afghanstan da Aulomu Academy, da Zabo aw Adabyato Markaz, Pasto Tolana, daolati Matbuia, kabul, 1365, P 40.
8- Ibid P 40.
9- Nasir, Nasrullah (Seranpoh), la khole.
10- Salahi, Mohammad Nabi (Seranwal), Nawi Adabi yadshtona, qalam Tolana, Afgan Maslaki Matbuia, kabul, 1395, P 11.
11- Mangal, Abdul Ahad (Serandoay), qalami yadasht.
12- Ahmadzai, Mohammad Asif (Serandoay), la khule.
13- Hangama, Zahira (Seranwala), la khule.
14- qarwal, Mohammad Aarif (Seranpoh), la khule.
15- Side, Sid Nazem (Serandoay), la khule.
16- Sher Mohammad, Toqmar, Sham Shad TV, Bala ae wakhlm khparawana.
17- Shawqe, Abdul Raouf, Sangar, Kesat.